# غږ د کلمو روح

پنځوال: محمد انور وفا سمندر



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څنګ سره ایښي کتابونه (٦)

دا یو غږیز غږوړنها، (غږ د کلمو روح)

تاسو (           ) ته، په ټول درنښت ډالۍ شو؛

د زړونو او ذهنونو، د روښنايۍ په نیت یې وڅښئ!

مینه اکادمي



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالۍ:

«ځان» نذرانه کوم، خدايي بې شکله
غږورڼا له پاره!



(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه اکادمی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خدای تعالی په نامه،**
**چې له نامه نه یې، د خالصې**
**مینېورحمت عطر، زموږ پر زخم**
**زخم زړونو، را اوري!**



(c) ketabton.com: The Digital Library

**کتاب پېژندنه:**

**د کتاب نوم:** غبږ د کلمو روح

**پنځوال:** محمد انور وفا سمندر

**ډیزاین:** هېوادمل گرافیکس (۰۷۸٦۷۸۵۷۲۰

FB.com/hewadmal.graphics

**چاپشمېر:** ۵۰۰ ټوکه

**خپرندوی:** مینه اکادمي

**د خپرونو لړۍ:** (٦)

**لومړی چاپ:** د ۱۴۰۰لمریز لېږدیز کال پسرلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱

غږ د ژوند سا ده. دنیا په خدایي غږورنا، ودانه ده.
له بې غږۍ سره، هرڅه مري.
هرڅه هیریږي، هرڅه ورکیږي.
غږ، د هستۍ نوم دی.
(د چوپتیا دمه)

زه له هغې شیبې یادیږم؛ چې ونومول شوم.
ګل له هغې شیبې شته؛ چې ګل ونومول شو.
دنیا له هغې شیبې شته، چې ونومول شوه. یاده شوه.
موږ د غږ له لارې، دنیا مومو.
موږ، چې د هر غږ لاره ونیسو؛
یو شی مومو.
(د چوپتیا دمه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دنیا له غږه جوړه ده.
دنیا په غږ ژوندۍ ده.
دا راز راز غږونه، د دنیا ساه را کښل دي.
موږ په هر غږ کې، د دنیا ساه را کښل اوروو!
شکر خدایا!
د غږونو باران دی بختور وي.

★★★

۲

**غږ، د خدايي غږ بې‌شمېره، انعکاس دی.**
غږ سپېڅلی دی.
کاش موږ دومره هوښیار شو چې د هرچا غږ ته احترام وکړو.
که موږ یو بل ومنو،
یوبل واورو؛
نو کله به هم له وچکالۍ، سیل، زلزلې، او اورغورځونې سره،
لاس او ګریوان نشو!
(د چوپتیا دمه)

★★★

## ۳

اه، شکر خدایا!

شکر دنیا ټوله نوې او تازه ده.

زه نن هغه دنیا گورم، چې هېڅ‌مهال نه وه.

دا نوې دنیا، نوې نړۍ،

او نوی ژوند دی!

(د چوپتیا دمه)

زه نن نوي کائینات گورم او اورم.

دا کائینات ټول نوي او تازه دي.

دا کائینات ژوندي دي.

کائینات، له ژونده ډگ دي.

کائینات، خدای پیدا کړي.

کائینات، له غږه ډک دي.

کائینات، له کلمو او وېناو، ډک دي.

کائینات، نه پرانستل شوي کتابونه دي.

حتا، یوه شنه پاڼه،

حتا، یوه وړوکې چوغکه،

حتا، یو وړوکې کب،

ټول، خبرې کوي.

ټول، غږ لري. (د چوپتیا دمه)

اورئ؟ دا ټول پاکه او سپېڅلې ترانه وایي.

ټول، د خدای شکر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول کائینات، د خدای شکر په خوله لري.
زه له کائیناتو سره، خپل زړه او خوله،
او پټ حواس شریکوم.
او ددې نوي او تازه ژوند، شکر کوم.

★★★

۴

**دنیا د غږونو ویاله ده.**
هره خوا چې گوروو؛ غږونه را اوري.
(د چوپتیا دمه)
آدمیان غږیږي، مرغان غږیږي؛
د هغو ژبه، زموږ لەپاره، ترانې جوړوي.
باد غږیږي؛
د باد غږ، موږ د وریځو په حرکت کې وینو!
ونې، بوټې، شنبلې، وږې، پالیزونه،
گلان او میوې هم خپل، خپل غږونه لري!
(د چوپتیا دمه)

ټول طبیعت غږونه او غوږونه لري؛
کنه لمرگلې، د لمر په لور نه ور کتل.
کنه اوبه په وچو زمکو نه ورتلې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنه په ژمي پسې پسرلی او ورپسې اوړی،
او ورپسی منی،
او ورپسی بیا ژمی نه راتلل.
(د چوپتیا دمه)
ټول څه، هم غږ لري، هم رنګ او هم یو بل اوري.
ټول طبیعت، یو د بل لهپاره، ترانې او سندرې وایي!
ځکه خدای داسې سندربول پیدا کړي.

★★★

۵

سکوت اورئ؟
سکوت د ټولو غږونو، (غږ) دی.
سکوت، یو مخ غږ دی؛
غږونه یې، (انسان، مرغه، پیری، ستوری...) نومونه دي.
سکوت، ټول غږ دی.
او د ټولو غږونو سا، ځان کې لري.
(د چوپتیا دمه)

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٦

سکوت يو دی او غږونه يې نومونه دي،
چې بې له‌دې، غوږونه نه ورته خلاصيږي.
موږ «غږ» نه اورو؛ نومونه يې اورو،
چې د ذهن ماشين ورته اختراع کړي.
نو زموږ غږ؛ غږ نه دی، هسې يوه تياتري لوبه ده،
چې د «زه» او زه ترمنځ واټن، پر دغې نشه تېروو!
غږ چې غوږ کې خلاص شوی،
هغه وچې، کلکې، پلاستکي، لرګينې، اوسپنيزي نقره‌يي او...
نانځکې دي، چې تمدن يې راوباسي،
او زما شخصي زمانه يې د خرڅلاو شيبه ګرځي.

★★★

## ۷

زه يې ولې اورم؟
د «زه» تشه، ډکېدل غواړي!
وړی مړېدل غواړي!
نوم ليکل کېدل غواړي!
زه به تش وم؟!
زه تشه يم!
غږ، نوم را باندې ليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷

زه په غږ کې، خپله تشه وژنم.
زه په غږ کې، خپل سکوت ماتوم.
غږ، زما شراب دي.
زه کنډو
د غږ لاره؛
آواره؛
دښته؛
پاڼه...
تر هغې چې یوې مور زیږولم، زه چیرې وم؟
تر هغې چې یوه پلار نومولم، په څه نومېدلم؟
تر هغې چې د کلي، قوم، دود، تاریخ، واسکټونه او خولۍ یې را اغوستلې؛
پر سر را ایښوولې،
زه څه وم، څوک وم؟؟؟

★★★

## ۸

کلونه کېږي، چې کلمې له ما لاره کړې؛
خو نه لیکل کېږي!
کلمه په غوښه، هډوکي، ډبره، پاڼه او
د انټرنټ پر څپو نه ځایږي.
پر کلمه غږېږم؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو (کلمه)، نه غږېږي!
کلمه سپینه ده؛
خو نه هغه سپین مخ چې زه یې وینم.
کلمه حاضره ده؛
خو نه هغه هندسي کتاب چې پر ما یې را ایښی!
یا ما پر دې لوستونکي ور ایښی!!
کلمه، تر خبرې دمخه او وروسته شته؛
خو کېږي لا نه!
زه کېږم او کلمه ورک کوم.
موږ کلمه‌ورکي، ویناوال مروو؛
چې کلمه وشي.

★★★

## ۹

کلمه د خدایي غږ، حاضره څېره ده!
که چېرې ذهن له کتابتونونو او معبدونو،
او د غوښو - هډوکو له خدایگانو وشړو،
کلمه پاتې کېږي.
کلمه، تر هرې ژبې دمخه ده.
کلمه، کټ مټ له خدای سره ده او (هغه)، ذهني نفسونو وژلې!
د (نېچې) دومره زده و، چې په‌خپله «زه» باندې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغې د وژلو جنايت ومني، د (ملاصدرا) په خبره:
«خدايه!
څه يې ومونډل چې ته يې، ورک کړي!
څه يې ورک کړل، چې ته يې ومونډلې!»

★★★

## ۱۰

غبر، د حکمت کان دی.
کاڼی، يوه اګاهي ده!
کاڼي، هومره سخت ويده دی، چې يوازې سنګتراش يې را ويښولای شي!
د سنګتراش لاسونه، هغه ژوند خوځوي، چې له خدای څخه راځي!
سنګتراش يوه څېره ده، يوه دبدبه!
خو ژوند هغه خدايي غذا ده، چې
د مينې زانګو کېږي.
او هستي له ټولو خاورو دوړو سره،
تر شنه تشيال لاندې اهنګينه، خوځوي.
اهنګ، د ژوند درزا ده،
چې د مور له «اللو للو... دلته مه راځيه غلو...» دمخه،
ما د هغه کور په لور ور بولي، چې
له ازله، زما په په روحي‌نوم، اباد و او دی.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱

غږ، د کور سپوږمکۍ ده.
زما لاره هغه ده، چې کور ته به پرې ورځم.
د زانې الوت هغه دی، چې کور ته به یې ورځي.
د عالم لاره هغه ده، چې د فکروباور په زور یې؛
په «ډار» او «زور» غواړي.
څوک دي، چې بې لارې دې وي؟!
د ژوند ډولونه، په‌خپلو طبیعي لارو، کور ته روان دي.
کورونه، د خدایي کور، مکاني-ذهني کورونه-معبدونه، دي!!!
که څوک وي، چې زه یې لارې ته برابر کړم؛
خپله به را نه ورکه شي.
که څوک وم، چې نور مې باید بوځي، خپله به مې نه وي؛
تجربه به مې نه وي.
څوک نه‌شته، چې څوک یې بوځي!
ځکه لارې جلا، جلا؛ خو مقصد یو دی.
ځکه خدای او خدایي کور یو دی؛ خو د ژوند په شمېر، بڼې او ذهني ډولونه، تراشل کېږي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۲

زما ټولې موندنې نقلي دي.
خبرې مې هغه ماشيني شوي اهنګونه دي، چې له خدايه رابهېږي.
هېڅ شی سخت نه دي!
يوازې زموږ ژبه، کاغذ، او متن،
اوسپنيز شوي.
په اوسپنه چې کرښې را شنې کوې؛ نو په اور به کښېنې،
اور به خورې، چې وخوړل شې.
«هغه» شته! بې اوره، بې ډبرې،
بې مسي او برنزې معبدونو (دی) او هر ځای شته.
ما څه وکړل، خدای را نه خاورين شو!
په خاورينو معبدونو کې اوسي، او اوسپنيز غازيان راځي، چې
له معبدونو «کوه‌نور»، او سنګ شامقصود غلا کړي؛
کور سره نېږدې، خدای ته کور جوړ کړي! (د چوپتيا دمه)
خدايه! ساده کېږم:
طلايي، او نقرهيي، او مسي
جامې هېروم، ساده کېږم؛ متن وباسم،
چې له مړه فيلسوف سره پاتې شي!
زما څه نه‌شته؛
زه هغه را نه ورکه برخه يم، چې کټ مټ دې، په ساه را کښلو کې وشو!

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳

غوړۍ په دواړو غوږو را پرتې دي او يوه هغه شپېلۍ غږېږي، چې ټوله
ځواني يې،
د (زاړه ښار)،
په سرپټو کوڅو کې وغړمبېده؛
له وچو لرګو-وسو سره والوته، او دلته کسټ په غله ژبه،
ما د غږونو په کاغذونو کې اوبه کوي!! (د چوپتيا دمه)
غږ شته؛ نو کاغذ ځنګه اورم!!!

★★★

۱۴

غږ نه ثبتېږي، نه ودرېږي، نه وچېږي!
غږ نه مري؛ ترڅو «غږ» ته ورسېږي.
څومره چې ورباندې غږېږم، لېږې کېږم.
څومره چې پوهېږم، هومره يې دروغ دروغ،
په خوله او په متن کې راوړم!
(شته)، نه ويل کېږي!
شته؛ ښوول کېږي!
نشت وايم، ليکم او د کاغذي غږونو کاروانونه،
د ذهن وچ، کرخت، بې مالګې جنت ته،
ور جاري کوم.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵

غږ شته.
(څوک) یا (هېڅوک) غږېږي!
خو چې زه غږېږم، غږ ډوبېږي،
لیک د غږ احتکار دی.
لیک د لیکوال نه دی؛ اخر یو (دی).
یو چې بیا پر عقل ور پورته شو، یو شو؛ نو څوک به نه غږوم!
(سپین غږ) خپله غږېږي!
یوازې غږ غږېږي، ما خپل د شعور جیبونه، له غږه را غلا کړي!
هغه هرڅه لري، خو پولیس یې زه یم!
او «زه» یم!
څکه نو زمانې، زمانې زما د غلا، غځول دي.

★★★

۱۵

غږ، د حکمت، آزادۍ او مینې،
بې‌پولو اقیانوس دی.
همدا غږ دی او ټول غږ شته!
نه به یې وایم! دا د بدن خاورین کنډولې مې خام دی؛ اور به واخلي.
آه ه ه...!
څومره چېغې مې وهلې، چې راوېښ شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هومره مې را باندې ولیکل، چې بېرته بې‌سواده شوم.
بې‌سوادي ښه ده،
ځکه خدای شته،
نوره یې، بې‌سوادي ده!
(د چوپتیا دمه)

★★★

## ١٦

یو بې‌نومه دی، چې دومره مې غږوي!
یو بې‌نومه دی، چې زما تر وینا، نصیحت، پوهې
او عقل لا، لا، لا... لوړ ودرېږي.
نه یم هغه خوله، چې بې‌نومه پرې وویل شي.
نه یم راویښ شوی هغه غوږ، چې دغه د هرڅه پلار؛
سکوت واوري!
آه!
په دې لرګېنو توریو څه وکړم!
په دې غاښوره خوله، څه ووایم!
په دې غوږو، چې وینې یې ژوند دي؛ څه واورم!
چې بې‌وسلې نه‌شم، هغه مې نه‌شته.
چې سترګې او غوږونه،پښې او لاسونه...
فکرونه او زاړه آوازونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تش او خالي نه کړم،
بقا مې نه‌شته!
هو! بې‌مينې کولو، هېڅ نه‌شته، هېڅ نه‌شته...!

★★★

## ۱۷

غبږ د ابديت کښتۍ
په غبږ، چې د جسم کاڼي، را چاپېر شو، مکاني-زماني شو.
زموږ اذلي جنس، ځان کې ويده غبږورنا دی.
ددې نور او غبږ را وښکلو له‌پاره بايد عاشق شو؛
لنډۍ شو او سرنده يې شو.
نی‌وشپېلۍ يې شو.
او دومره تندريز شو، چې کاڼي کې، زړه ته لاره پيدا شي.
او دې سره به زموږ هغه سترګه راويښه شي، چې د خدای له وخته مو لرله؛
خو لا مو نه‌ده کارولې!
څوک يې درېيمه سترګه نوموي، څوک دروني سترګه.
وايي: د دوو سترګو د وروځو منځ کې، ويده پته ده!

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ١٨

ژوندي، د خدايي غږ بې‌شمېره څېرې دي.
او: ژوند د غږ نقاش دی.
هر ژوندی د غږ د شعر يو جلا صنعت دی.
د شکلونو سرنوشت، د غږ کښتی موندل او هغه کې سپرېدل دي.
د ابديت د قانون له مخې، ټول سپاره دي.
خو هره اروا، په استثنايي حالت، سرعت او څېرې سره.
لوی سرعت، له عشق سره دی.
عشق، د ابديت ژوندی قانون دی.

★★★

## ١٩



لويه خدايه!
زه څه يم، چې څه وغواړم؟
ځان، د خدايي غږوړنا،
تالندو او برېښناو،
موجونو او ګړنګونو ته سپارم!
زه څه يم، چې څه وکولای شم!؟
ځان، خدايي غوښتنې ته سپارم.
زه څه يم، چې څه وکولای شم؟
ځان، د خدايي غږوړنا له‌پاره، لاره غواړم.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰

کلمه، د غږ شکل ده.
دغسې هر شکل، مجسم غږ دی.
ونه، هم د غږ شکل ده.
آیا موږ د بې‌شمېره شکلونو، دغه ګڼه او جاري سمفوني اورو!؟
یوازې مینه کولای شي د ټولې هستۍ،
په رنګینو پټو - څېره راوړو غږونو، جاري شوې او ژوندۍ موسیقي واوري.

★★★

۲۱

زموږ فکر، زموږ خبره،
زموږ دریځ او زموږ کړنه،
د ګلانو په څېر را ټوکېږي او زموږ د (بخت) پانه، سمسوري.
اوس به ووایو، چې لویه ورځ مو فکر کې، څه ګرځېدل؟
په خوله مو څه راوړل؟
دریځ مي څه ؤ؟
او کړنې مو په څه ارزېدې؟
اوس پته راته ولګېده، چې ګل په شعور لوړ دی، که زه عزتمن!؟

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۲

انسان کاملا يوازې دی!

انسان، د جسمي، ذهني، عاطفي او رواني پوړيو او کالبونو په اغوستلو سره،

د (ځان)، موندلو مامور دی.

دا ماموريت، يوازې ترسره کېږي.

دا سفر، د ځان اقليم دننه، تر سره کېږي.

دې چارې لەپاره، موږ خدايي نور او غږ-کلام، په اختيار کې لرو.

نور، دروني لاره را رڼوي،

او غږ، د دروني دنياګانو، يوازينی لېږدونکې، سپوږمکۍ ده.

يوازې مېړن واوسئ:

هره چاره د خدای په نامه سرته رسوئ!

★★★

## ۲۳

د خاموشۍ تندر!

خاموشي

د غږ په غوغا ډکه ده.

آيا کله شوي، چې نه د انسان،

نه د حيوان،

نه د مرغه،

نه د ماشين او نه د باد يا باران،

تندر او حتا د مېږي، د پل اوچتولو غږ، وا نەورئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غږ اصلي، ابدي او جاري سرچینه دغلته ده.
چوپتیا د ټول متن،
ساز او خبرو،
نه ختمېدونکې ویاله ده.
کله کله له دې مادي-ذهني غږونو، ها غاړه غږونه وځښېږي.
د چوپیتا غږ، د تخلیق اساسي سرچینه ده.

★★★

**۲۴**

د خوب سپوږمکۍ، د مکان او زمان هاغاړه،
سیاحت راباندې کولای شي.
که په پښو ځو، نو پېړۍ یې وبولئ، چې پر دغې خاورینې دنیا، راتاو شو!
د زړې زمانې قاطر، آس، بگۍ،
یا راوروسته باېسکیل،
موټرساېکل، موټر،
یا تر هغو قیمته بېړۍ والوتکه،
یا د اوس زمانې سپوږمکۍ،
دا ټول لېږدونکي، خره دي، چې لاره لنډوي.
خو د خوب سپوږمکۍ په شیبه کې، له مادي حواسو او ذهني عقله هاغاړه،
نااشنا جهانونه راباندې، وړیا گوري.
دې بې‌شانه سفرونو ته مو څومره پام ور غلط کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې مېنان زړونه، دومره وس لري.
مېن واوسئ!
وينه او خوب به مو دې د هستۍ، د تازه اړخونو، کشف او پېژندل وي.

★★★

## ۲۵

په خدايي غرورنا لوند
او تازه خيال،
شېبه شېبه،
جنت ته شکل او واقعيت ورکوي.

★★★

## ۲۶

ونې ماڼۍ گانې دي؛
قصرونه دي!
هغه ژوندۍ واحد-ژوندی موجود، چې د ونې شين‌شال يې
پر ځان راتاو کړی،
له چا کم دی؛ له چا کشر دی!؟
آيا دومره سواد لرو، چې د ونې په ادبياتو،
د ونې په ژوندۍ زمزمه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خدای بې‌نومه نوم،
واورو!؟
خدای چې وي، بیا نو بل څوک (لوی) دی؟؟؟
دغه شېبې مې، د څو ژوندیو ونو،
له بې‌متنه لوحو،
دومره پوهه،
پر ځان ورزیاته کړه.
مینه دې سرلوړی وي!

★★★

## ۲۷

کلمې، له پښو پاتې غرونه دي!
کلمې، د ژوند د پښو-پلونو،
پاتې خاپونه دي.
ژوند په کلمو کې نه ځائیږي.
ژوند روان دی.
خو چېرې به ولاړ شي؛
له خدایه پرته به، بل چېرې ولاړ شي!
له (هغه) پرته، بل هېڅ نه‌شته!
آیا د وجود سمفوني اورو؟
دا اوس- څو شېبې- د ژوند سمفونۍ پسې، وتېپېدم او دا نښې مې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کلمو په نقابونو، راچاپ کړې!!
خو دغه سمفوني نشم ویلای،
نوټېشن نه‌لري!
دا تر لیک او الفبا مشر متن دی.
باید تجربه شي!
بل کار مه کړئ، یوازې پر ژوند میېن واوسئ!

★★★

## ۲۸

د غرورنا ستورمزلي استادان،
د دروني موسیقۍ،
د اورېدلو زده‌کړه ورکوي.
دا هماغه د ټول حیات، د اورېدلو وړ، ابدي او جاري، جریان دی.
د چوپتیا صنف، د حکمت له الماسو،
ډک دی.
یوازې میېنان دي، چې ددغه بې‌شکله ښار،
په سېل او سفر اوړي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ۲۹

افکار مو د سبا ورځې درمند دی.
اوس نو دا ووایئ څه شی ارزي، چې ذهن کې ځای ورکړو؟
آیا ځانونو سره دومره مینه لرو، چې سبا ورځ د مینې حاصلات،
ټول کړو!؟
نو وخت یې نه دی، چې یوه ښه «ذهن ټکاني» وکړو؟

★★★

## ۳۰

موږ، د مینې د غږ،
کلمې یاستو!
مینه شته!
باید «لیدل»، زده کړو!
مینتوب همدا دی.



★★★

## ۳۱

نړۍ؛ د غږ رنګینه نقاشي ده.
انسان، د غږ راوړی ګل دی.
ژوند، د غږ په وزرو راغلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library




د غر په بې‌شکله وزرو به، خپل ابدي کلي ته ستنېږي.
عمر ددې له‌پاره ښایسته موقع ده، چې مینه وکړو.
مینه کول، خپلې ټولې واګې، خدایي ارادې ته،
وسیله ګرځول دي.

★★★

## ۳۲

ټول دردوکړاو او سوزېدل؛
د ژوند د پسرلي، جوړېدلو له‌پاره دي.
ژوند، د ابدیت، سخندان دی.
فکرونه، باورونه‌واخلاق، که د ابدیت سرود سمفوني نه‌شي،
هېڅ دي!



★★★

## ۳۳

کاش داسې کلمه وای، چې ټوله مینه مو،
په کې ایښې وای!
او دا وړیا کپسول مو،
د ټولو دردونوورنځونو؛ د واکسین په توګه،
یو بل ته ډالۍ کولای!

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاش پرته له عشقه؛ نوره ټوله پوهه او شعور،
ناشعوري او ناپوهي وای!
کاش تن وعاطفه، ذهن وروان؛
ټول، د عشق له خاورې جوړ وای!
کاش ټول کار، د مینې کار وای!
او کاش، هرڅه مینه وای!
او کاش یوازې مینه وای!!

★★★

۳۴

د توت ونې، یا ارچې لرګي،
یا هم له وسپنې او پلاستیک جوړې إلې،
دننه، چې عشق ننوزي، په څه کیف بدلیږي!
خو زموږ اهلي خوله- هغه هم ټوله ورځ،
څه بادوي!؟

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳۵

سپین غر، د ټول پنځ جاري چینه
وايي:
«خدايي غر مخامخ له اروا سره خبرې کوي.»
او میېن زړه، د روح سپین غر،
حس او تجربه کولای شي.
ذهن او ذهني ژبه، دا بې‌شکله غر،
د لنډۍ یا مثنوي، نثر یا کیسې،
مجسمې یا نمایش په بڼه، دنیا ته ور معرفي کوي.
یوازې میېن زړه واوسئ!

★★★

## ۳٦

جهان، د غر د ابدي موسیقۍ،
ونې، بوټي، ګلان او هر بل زنده‌جان،
دي.
که دروني حواس راویښ کړو، او هستۍ ته د زړه په سترګه وګورو،
نو جنت مو خوا سره دی.
جهان؛ د غر ژوندۍ نقاشي ده.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۷

غوږ ایښوول
او د چوپتیا شات اورېدل؛
د چوپتیا د اقلیم ټوله پوهه ده.
سکوت؛ پرته له شیبې ځنډه،
اوري!

★★★

۳۸

ژوند،
له خدایي زمکو،
د را روان بېمتنه غږ،
حسي څېره ده.

★★★

۳۹

ژوند؛ د عشق د غږ،
انگوروغنم دي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۰

ژوندي؛ د خدايي سپين غر، بې شمېره څېرې دي.
او ژوند د غر نقاش دی.
هر ژوندی، د غر د شعر يو جلا صنعت دی.
د شکلونو سرنوشت، د غر کښتې موندل،
او هغه کې سپرېدل دي.
د ابديت د قانون له مخې، (ټول) سپاره دي.
خو هره اروا په استثنايي حالت، سرعت او څېرې سره.
لوی سرعت له عشق سره دی.
عشق، د ابديت ژوندی قانون دی.

★★★

۴۱

ژوند، د هغه يوازني، د غر، کرونده دی.
نو جګړه له کومه شوه؟
جګړه، د ذهن اضافي غوښتنه ده!
د سولې ورکه کلی، د نورو (ژوند، آزادۍ او مال) ته،
درنښت کول دي!
يوازې مينه کولای شي،
انسان نوی، مدرن او مدني موجود، جوړ کړي!
مينه، تر جګړې وشخړې، زياته زړورتيا غواړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه بخښوونکې ده او جگړه، اخستونکې!

★★★

۴۲

غرورنا،
د روح خواږه
و اوبه دي.

★★★

۴۳

«دا د هرې اروا برخلیک دی، چې د معنوي غره لوړې څوکې ته ورسیږي.
او د ژوند هر شیبه کېدلای شي، په روغه لاره کې یو گام اخستل وي.
او: د غرورنا ستورمزلی، د لارې، لارښوونه کوي.»
نو؛ فقط مین واوسئ!

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴۴

وایو:
«خدای شته!» (خدای حاضر او ناظر دی)
خو پوهېږئ، موږ له خدایه څه لرو: د غرورنیا روان بحر.
ټوله هستي، د هغه د مینې ستره،
غرېدونکې ترانه ده.
دا سپینه نغمه، له ابده وه،
له ابده شته، او تر ابده به یې، د زیروبم پر څپو،
اوږو را اوږو او د ټول ژوند په څېر به، د حیات اوبه ترې څښو!
وګورئ: پرته له مینې، بله رښتیا-بل واقعیت-نه‌شته!

★★★

## ۴۵

خدایي اراده، د هستۍ ژوندۍ حکومت دی.
خدای شته!
او دې کې بل هېڅ خبره، نه ځایېږي.
موږ څه ډول کولای شو، د هغه له ارادې سره اړیکه ونیسو؟
غرورنیا!
دا له تیلي ځراغونو نیولې، تر سمندري ځراغونو،
تر روشن اندازونو،
تر (کرم‌شبتاب) پورې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتا تر دروني لمرونو او نور فوارو پورې،
شکلي او بې‌شکله رڼاگانې، په ځان کې رانغاړي.
نو هم به دباندې نظر ساتې او هم دننه!
لمر مو د جسم او حواسو فصل، را پخوي.
او خدايي رڼا مو، زړه د رڼا په جنس بدلوي.

★★★

## ۴٦

د معنوي کمال ارتفاعاتو ته تللې لار، له خدايي غرورڼا نه،
خبرېدل دي.
خپل تخيل ته مخه کړئ!
په دروني ابزارو، د هستۍ د ناآشنا ابعادو،
نقاش شئ.

★★★

## ۴۷

د غرڼ سپينه نغمه، چې د وجود له ناپيدا لوړو را الوزي،
د حيات اوبه دي،
چې وګړي يې په څپو سپور، خپلو هېرو ازلي زمکو ته رسېدلای شي.
کله کله «ځان»، اورئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوپیتا، ددغه غږ په ابدي سندره،
ډکه ده.

★★★

۴۸

ژوند؛ د «شېبې» شعر دی.
څومره، چې ژوندي ؤ، هومره شعر جوړېږو.
وګورئ!
هیلی- یا هربل څه چې دا اوس ګورئ- تر هر نوي او زاړه شعره،
زیاتې نوې او شعر شوې برېښي.

★★★

۴۹

ژوند په بې‌متنه ژبه غږېږي.
ګلان، چنارونه، وېالې، سیندونه،
مچۍ، غرڅې، همالیا او بابا غرونه،
اطلس او نور اقیانوسونه،
لمر او ستوري...
دا د ژوند د ناتمامې ژبې،
مجسمې کلمې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا زموږ ژبه او نورې ژبې، او په ژبو سپړې پوهې او انګېرنې-باورونه،
دومره روح لري، چې د یوې کونډې ابۍ- خور، درد ته د خوښۍ جام،
ور په خوله کړي!؟

★★★

## ۵۰

د چوپتیا، ارامه غېږ!
ژبه کله کله تر اور سوزنده شي؛
نو بیا چوپتیا مرهم ده.

★★★

## ۵۱

ژوندی کتاب
آیا کله مو پام کړی، چې د وجود دننه مو،
د غږ عجیبه وړمه چلیږي؟
آیا زړه ته مو لوېږي، چې دا بېمفهومه، غیر ذهني غږ،
د اګاهۍ او درک لویه غذا ده؟
یوځل یې وازمویئ!
دا غږ،
دغه شېبه-ولو که استراحت یاست، یا په څه کار لګیا یاست،
چا سره غږیږئ...
په هر حال، دا غږ شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سرچینه یې ستاسو دننه ده.

او ستاسو د اګاهۍ دننه یې نغمه غږېږي.

تجربې ثابته کړې، چې په ذهني ژبه، تر ټولو غوره وینا، تر ټولو ښه شعر او بل پنځ،

ددغه دايمي دروني غږ، له نااشنا نغمې را جوړېږي.

یوځل فکر ودروئ،

له فزیکي حواسو لاس واخلئ،

او د غږ دغه ابدي جریان ته، د زړه غوږونه خلاص پرېږدئ، او وګورئ، چې ذهن او خیال ته مو،

د څه نویو فکرونو، ویناو، شعرونو او هنرونو، باغونه راوځي.

★★★

۵۲

هرڅه د غږ یوه بڼه دي.

غږ، د هرڅه سا دی.

او د غږ رودخانه، هماغه ځان ته، د چوپتیا راپرېښوول دي.

دا هغه غږ دی، چې بحث ورباندې نه کېږي!

په پوهه یې رازوسرچینه، نه موندل کېږي.

په تورو او کلمو کې نه ځایږي!

خو درک کېدلای شي.

دا د خدایي هوښیارۍ، جام په سر اړول دي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵۳

«مستې منگی بر وړی دی/زړه مې دلبر وړی دی
عالمه لار نیسئ، یار په هنر وړی دی.
خبر یې بیا د اخستو دی...»
د اواز دا شاتو مې څښل، او زړه کې مې تېرېدل:
لاس په ماشه ټوپکوال یې، هم که په رڼو حواسو واووري،
نو له دې هیسته به د ژوند مرغی،
د خدای له باغه کمه، نه‌شي!

★★★

## ۵۴

کلی،
اوړی،
د وږو تنده،
او د دانې غږ،
چې بزگر یې د بېل په چړې برابروي،
او د اوبو شوړړړړس، مخ په غنمو،
او په وله کې ناستې مرغۍ چونس،
چې د غنمو د تندې ماتیدلو
او د اوبو د سپېڅلې نېشې، شکر په کې عطر ایښي.
او ناڅاپه د ابو «مور» غږ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«انوره! د مکتب دې ناوخته کېږي.»

ژوند، هر شېبه تازه سمفوني ده.

باید په ټول وجود وځښل شي!

★★★

## ۵۵

زمکه،

د غږ ناتمامه سمفوني؛

وګړي خپل فکرونه،

د نظر شعرونه

او د باور کارونه،

اوري.

★★★

## ۵٦

د حیات نغمه

انسان، هغه څه پسې ورک دی، چې د «حیات‌اوبه» یې بولي!

دغه خدایي معجون،

هماغه د ابدیت روان ژوندی غږ دی.

دا غږ، نه په قلم لیکل شوی او نه به ولیکل شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نه په شعر او بل هنر کې ځايېږي.
دا سپين غږ دی.
دا د جنت سپينه سمفوني ده.
بقا په دغه غږ کې ده او دا غږ، حاضر دی.
دا بې‌مفهومه او غير ذهني غږ، دغه شېبه، هر ځای، هر يوه کې،
ځغلي.
د حيات له دغو روانو اوبو سره «ځان» وصلول،
د بقا طريقه ده.
غوږ شئ!
دغه غږ مادي- ذهني غږ ته غوږ شئ.
ددې غږ سرچينه، د هر وګړي دننه ده.
جسم، ذهن او فزيکي حواس، ارام ته پرېږدئ،
چې دا غږ مو د زمانو، دروني کنډوالی، در آبادی کړي.
ددې غږ موندل او په ټول ځان ښنبل،
لوی عشق دی.

★★★

**۵۷**

موږ د غږ نقاشان
کلمې، د غږ بربنډې شوې ښکلاوې دي.
حقيقت شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غږ د حقیقت تازه سا راښکل دي.
ټوله پوهه، ادبیات، علوم، عرفان،
دروني پوهې او مدنیتونه،
د حقیقت د غږ، بوډۍ ټالونه دي.
لیدلي مو دي؛ یو نیم ماوتا غوندې وګړی، غږ ته څېره ورکوي.
موږ د غږ له ویټامینو تغذیه کېږو.
د هرچا خپله طبعه ده.
خو د ځان په اړه اعتراف کوم، چې موسیقي، په ما کې، په متن بدلېږي.
ښایي تر ټولو ښه متنونه مې، د غږ د ریتم،
توروسپین رسمونه وي!

★★★

## ۵۸

تیارې مې روح را څېي،
زړه مې پر رڼاګانو بایللی،
د کلي لمرین پسرلي، او د خدایي رڼا ځنګلې،
پر بدن او دروني حواسو را چاپېرېدلو سره، روح را تازه کاوه.
موږ د خدایي غږورڼا، کډوال بچیان یو.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵۸**

کلمې د غبر شکلونه دي.
او راز راز ځيزونه، د کلمو راز راز ځېرې،
او نژادونه دي.
موږ په يوه غبروره هستۍ کې،
سا کاږو.

★★★

**٦٠**

سکوت، د ټولې پوهې، غير ذهني وضعيت
يوه شېبه يې په خيال کې راوړئ:
يوازې ياست.
يو ځل نظر پورته ځغلوئ.
له دې سره، د خيال په کالبوت کې، د هسک مينځ کې ودرېږئ.
اوس غوږ شئ.
ايا پرته له سکوت او خاموشۍ، څه غوږو ته درځي!؟
ځير شئ!
هرڅه په سکوت کې دي.
بشري پوهه، مکاتب، طريقې...ټوله معنوي پانګه،
د سکوت په فصل ډکه ده.
سکوت، د هر مکتب، کتاب، کتيبې، تمدن او فرهنګ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیر مادي-ذهني، حالت دی.

★★★

## ٦١

د غږ ځښناک، زړه او روح تازه کوي.
(ناشناس)، که یوازې په سندرو کې بهیدای،
خدای خبر څومره جل وهلي به ژغورل شوي وای!؟
دغه ځښناک وکړئ!

★★★

## ٦٢

دنیا، د غږونو ناتمامه خزانه!
بیا ځل د ځنګل یوې چوپتیا کې پناه شئ!
ددې ظاهري چوپتیا ځټ ته څه ګورئ؟
ددې دنګو ونو په رګونو کې، د ژوند روانه وینه-په‌خپله بې‌ژبې ژبه، څه په خوله لري؟
هغه چنجیان، چې دلته یې کورونه جوړ کړي، د کوم غږ په زور ژوندي دي؟
او:
هغه ارواوې، چې (زما، ستا او بل)، په تن کې دېره دي،
څه غږوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروا پر مکان او زمان مشره ده. او له خدایه غزېږي.
ایا کله مو ددغه اصیل او ابدي ځان، بې‌شکله متن، اورېدلی دی؟
ښایي شپه او د فزیکي حواسو او ذهن خاموشي، یو وړیا فرصت وي؛
د ځان د خالص غږ اورېدلو له‌پاره!
نو ټول د «ځان» په لور!

★★★

٦٣

د لومړني خدایي، سپین غږ، له وړانګو زېږدېدلی خدایي غږ،
د ټول سرنوشت، علم دی.

★★★

٦۴

«کلمې؛ په ذات کې یو دي.
یو و یوازې...
چې واورېدل شي!
له همدې وېرې، «کلمه» نه اوري.
سیند، شوبین چنجی، هغه حواس بایللي مینان، چې
د یو بل په سترګو کې ورک شوي!
د لیوه‌ګی او لیوه بچي، وړیا مچکې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول بې‌متنه او کلمو دي.
ددغو بې‌متنه کلمو، هېڅ کتاب، نه چاپ شوی
او دغه سپین‌غږ، نه ذهن‌بازار ته راغلی!
هاااا...ای! څه مې ووېل؟
کله کله زه نه یم؛ او د ټولې زمانې چوپتیا،
ما کې ژبه شي.

★★★

٦٥

جنت؛ له دوزخ وروسته زمانه!
دوزخ، د آدم د املانویسۍ کرونده!
او جنت، د خدای د نالیکل شوي غږ،
بې‌شکله هندسه!

★★★

٦٦

غږ، د هر وګړي مدرسه
سرآهنګ ایف ایم، پر څپو د احمدظاهر، د اواز وړم راوالوت؛
ټول یې ویوړم، د غږ بحر ته!
غږ، څه عظمت دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولو شويو او ناشويو کلمو، لاس نه‌وهلې معصوميت!
وايم که يوځل، ټوله هستي واورو؛ ښايي بيا د جنگ او شخړې وبا،
په ذهن او حواسو را واکمنه نه‌شي!

★★★

## ٦٧

غږ د برکتونو، روانه سمفوني ده.
ټوله هستي، د غږ مادي-ذهني څېره ده.
يوه هڅه، له اوله را په‌کې جاري ده، چې ټول غږ واورم.
ماشومتوب کې به مې، چې ژېړه غوا، په پولو پوو‌له،
دغه بې‌متنه غږ به، د ما د سر دننه، په وززز وززز ؤ.

★★★

## ٦٨

يو جام غږ څښل،
ابديت کې لامبي او ډوبېدول دي.
د هېڅ سندرې شعر مې، پوره په ياد نه دی؛ او مه يې رانه پوښتئ؛
ځکه غږ پر شعر مشر دی.
غږ پر شعر او ټول متن کې اول دی.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ٦٩

کلمې د غږ نقل وپتاسې، خستې وبادام، غنم يا منې
او ښايي تابليت،
(K) او (جام شکران) هم وي!
د غږ سپينه سمفوني، د سوچه، تازه او بې دليله (پوهې، حکمت او ازادۍ)،
ترلاسه کولو له‌پاره،
د هر وګړي، فردي مدرسه ده.
بې له مېنې، بل زيار ته اړتيا نه‌شته.
مينه د وجود خاوره، د غږ په اباده، بدلوي.
ميېنان د زمانې زړوران دي!

★★★

### ٧٠

ولې غږ (صوت)، هرڅه ګڼم؟
ځکه چې هغه د کلام، کامل حالت دی.
که غږ نه وي؛ کلمې له شعرونو او نثرونو
تولیږي.
غږ د کلمې، علت دی.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷۱**

غږ د کلمې اوبه دي.
غږ د کلمې فکر دی.
غږ د کلمې خدايي جوهر دی.
ځکه نو؛ زما فکر د خالص غږ،
په اوبو ژوندی دی.

★★★

**۷۲**

غږ، د پوهې سا ده.
ځنې نېږدې خواخوږي مې، تل دا را څخه پوښتي:
«دا غږ څه دی، چې دومره ور پورې نښتی یې؟»
زما اوسنی نظر: غږ، د ټول عالم، بې‌شکله ابدي وجود دی.
غږ چې نه وي، د ټول علم، فن او هنر ماڼۍ،
دوړه کېږي.
غږ، د خدای د نوم کښتۍ ده.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷۳

دا يې تازه څاڅکي:

«زړه يې له دغه غبره، د ژوند سا اخيسته!

زړه يې يو کتاب پوهه او خبرتيا تر لاسه کړه.

کتاب په هېڅ ژبه، الفبا او متن نه ښکاره کېده.

کتاب سپين او بې‌متنه ؤ؛ خو کتاب د هماغه بې‌مفهومه غبر،

له ننداريې جوړ ؤ!

دا کتاب په ليدلو حس کېده...»

(هر يو خپل سقراط دی، ۲۲۱م مخ)

★★★

## ۷۴

«غبرونه ټول دې خدای دي.

بې له خدايه، غبر د چا کېدلای شي!؟

بې‌خدايه غبر نه‌شته!

هر ژوندی، د خپلې پوهې او وس په اندازه، د خدای غبر او نوم، له خولې راباسي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷۵

«موږ د غږ او نغمې، د لېرې زمکو مسافران یاستو!
شعر، نقاشي، موسیقي...
د کلالۍ هنر...ټول، د تبعید د زمان،
اوښکې دي!»
(جادوګر هزار دست، ۵۵مخ)

★★★

## ۷٦

غږ د روح کښتۍ
د غم‌ودرد له ټولو هغو لړو سره، چې ذهن او روان یې، را چاپېر کړی دی،
غږ د زړه ژغورونکی دی؛
په تېره چې د مینې له عطرو راټوکېدلي وي!
نو: غږ د روح کښتۍ ده.

★★★

## ۷۷

هغوی چې د غږ‌ورښا په رسۍ، سره وصل شوي،
د ابدیت د اقلیم، ګربتان دي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷۸

کلمه، د غږ ذهني رسم دی.

کتابت، د ذهني اندونو-باورونو، انځورگري ده.

غږ، اصل دی.

غږ، د تخليق سرچينه ده.

د تخليق دغه بهاند سيند، د ژوند زرې زرې ته، ژوند او پاېښت ورکوي.

له نړۍ غږ واخلئ، سا یې خېژي.

غږ، د هستۍ ژوندی او ابدي علت دی.

د پوهې، هنر او ادب ټول شاهکارونه، د غږ تر ټولو ښايسته، تراشلي پيکرونه دي.

★★★

## ۷۹

سپين غږ، د ټول تخليق توپان دی.

کلمې که په ځپ وخوځو، په غږ ور ختمېږي.

کلمې او توري، شکلي او تصويري غږونه دي.

چا چې بې‌شکله غږ سره، خپل زړه وتاړه،

د شهکار ميوه راوړي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library




**۸۰**

ساز څو آلې لري: لس، سل، زر...
خدای تعالی، بې شمېره سازیان، ترانه‌بول، غزل‌سرایان، لنډۍ‌بول،
دغې وچې او بې‌غبرګه نړۍ ته را استولي،
چې ژوند، د غبرګ باغستان شي!
هر انسان، او هر بل ژوندی موجود، ځانله غبرګ لري.
یعني هر یو جلا رباب، جلا ستار، جلا هارمونیه، جلا شپیلۍ او بله ساز آله دی.
زموږ سرنوشت د خدای د ستر نامه، شات دباندې رااېستل
او مخلوقاتو ته وړیا ورکول دي!

★★★

همدلته به دمه شو؛
کنه غبرګ دغه دی، چې دغه شېبه- موږ یوه یوه ته- سا راکوي.
برکت دې وي.



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**